# ملګري ملتونه

## په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوی پلاوي (یوناما)

## د ملګرو ملتونو امنیت شورا، ۱۹ مارچ ۲۰۰۹ کال

## د افغانستان لپاره د سرمنشي ځانګړی استازی، کای ایده

ښاغلی رئیس، زه به خپله وینا له هغو پرمختګونو څخه پیل کړم کوم چې په اړه یې ډېر راپورونه نه خپرېږي او هغه عامه پاملرنه نه ترلاسه کوي چې دوي یې قابل دي. سره له دې، که موږ غواړو په افغانستان کې د پراختیاو په اړه یو بشپړ انځور جوړ کړو، نو د دغه پرمختګونو یادول خورا مهم دي.

لومړی: په تېرو شپږو میاشتو کې د ټولو رامنځته شویو بدلونونو وروسته، افغان حکومت نن تر بل هر وخت ډېر ښه وړتیا لرونکی دی؛ او په ولایتونو کې د حکومتولۍ کچه هم لوړه شوې ده.

دویم: د حکومت دننه، د مهمو برخو او ځانګو ترمنځ، همکاري ښه شوې ده. دا خبره په ځانګړې ډول سره د امنیتي وزارتونو او ادارو په اړه صدق کوي. او پایلې یې څرګندې دي، موږ د ترهګرو شبکو د کشفولو او د بریدونو د مخنیوي په برخه کې د وړتیا لوړېدل وینو. البته، په پلازمېنه کې ځینې د پام وړ ترهګریز بریدونه ترسره شوي دي، خو په کابل کې د بریدونو ټولېز شمېر کم شوی، چې یو علت یې د یاد شوي ښه همغږي له امله دی.

د مالیې، کرنې او سوداګرۍ وزارتونو په مشرتابه کې له بدلونونو وروسته، اقتصادي وزارتونه هم په ډېر منظم او همغږي سره کار کوي. دا کار باید حکومت ته دا وړتیا ورکړي چې لا ډېر یو موټی اقتصادي ستراتیژي ګانې طرحه کړي.

دریم: دغو بدلونونو حکومت ته دا وړتیا ورکړې چې زموږ ځینې عمومې اوږدمهالې اندېښنو ته په ښه توګه رسیدګې وکړي.

د پولیس ځواکونو په برخه کې، د پیاوړتیا او د پولیس ځواک د صفونو د پاکولو لپاره یوه هراړخیزه اصلاحي پروسه روانه ده. دا کار باید د یاغیانو پر وړاندې د لا اغېزمنې مبارزې، د قانون د حاکمیت د لا زیات درناوي او د فساد پر وړاندې د مبارزې د وړتیا د ښه والي لامل شي. د پولیسو یو شمېر افسران له دندو ګوښه کړای شوي او تر عدلي تعقیب لاندې نیول شوي دي.

د کرنې په ډګر کې ملي ستراتیژي به د په اپریل میاشت کې پیل شي. په دې ستراتیژي کې به د کرنې ټولې مهمې برخې شاملې وي او د مرستندویانو د مرستې لپاره به یوه ګډه مالي سرچینه رامنځته کړي. اصلي موخې به یې د کرنیزو محصولاتو زیاتوالی، د بازارونو موندل، د وړتیاوو پراختیا او په کلیوالو سیمو کې د کاري فرصتونو زیاتول وي. د سوداګرۍ وزارت نوې ډله د خصوصي

سکتور د پراختیا لپاره، د دغه سکتور ننګونو ته رسیدګي کوي: لکه د قانوني کاري چوکاټ رامنځته کول، د پانګونې د هڅونې لپاره د لومړیتوبونو ترتیب کول، د جواز ورکولو په پروسه کې اصلاحات او له ګاونډیو هېوادونو سره د سوداګرۍ او ترانزیټ تړونونه ترسره کول.

او اجازه راکړئ تاسو ته یادونه وکړم چې د پولیسو، کرنې او د خصوصي سکتور پراختیا د تېرو څو کلونو  لپاره په کلکه له پامه غورځول شوي و. خو اوس مهال د لومړیتوب لرونکو برخو په توګه ورته پاملرنه کیږي.

څلورم: هغه ښه شوی داخلي یووالی چې اوس یې نښې ترسترګو کیږي، کولای شي له موږ سره د هغه ناوړه انشقاق وضعیت په له منځه وړلو کې مرسته وکړي کوم چې د نړیوالې ټولنې سره زموږ په همغږۍ کې خنډونه رامنځته و. د افغانانو له لوري پیاوړتیا همکاري به موږ ته دا امکان راکړي چې د همغږۍ او څارنې ګډې بوږد څخه ، چې د همغږۍ لپاره یو اصلي وسېله ده،  په ښه توګه ګټه پورته کړو.

پنځم: د ۲۰۰۹ کال لپاره د کوکنارو د کښت په اړه اټکلونه ښیي چې په ټول هېواد کې د کوکنارو  په تولید د پام وړ کمښت ترسترګو شي. ښايي موږ به د هغو ولایتونو په شمېر کې چې له کوکنارو پاک شوي دي، لا زیاتوالي او همدارنګه د سویل په سېمه کې د کوکنارو په تولید کې د پام وړ کمښت شاهدان هم واوسو. دا به د نشه يي توکو پر وړاندې زموږ په مبارزه کې یوه مهمه او سرنوشت ټاکونکې شیبه وي.

ښاغلی رئیس، دا پرمختګونه د بالقوه برياوو قصې وړاندې کوونکې دي. زه په ځانګړې توګه د "بالقوه" پر کلمه باندې ټینګار کوم. د دې چارو په حقیقت بدلول به په زیاته کچه د نړیوالې ټولنې په دې وړتیا پورې اړه ولري چې څومره ژر د ملاتړ په برخه کې غبرګون ښيي:

پولیسو ته د روزونکو، لارښودونکو او تجهیزاتو د برابرولو اړتیا شته.

د کرنیزو مرستو د تنظیم او پیاوړتیا ته اړتیا شته ترڅو نویو لومړیتوبونو او پروګرامونو ته په انعطاف پذیر ډول سره غبرګون وښيي.

د هغو والیانو د ملاتړ اړتیا شته چې هوډ لري خپل ولایتونه له کوکنارو څخه پاک کړي، او همدارنګه د هغو بزګرانو ملاتړ ته اړتیا شته چې چمتو دي له کوکنارو څخه قانوني کرنیز محصولاتو ته مخه کړي. که موږ په دې مهمو برخو کې بریالي شو، نو په رښتیا به د هغو ژمنو او لومړیتوبونو د پوره کولو جوګه شوي یو کوم چې د تیر کال په جون کې د پاریس په کنفرانس کې ټاکل شوي دي. او موږ به، د لومړي ځل لپاره وکولای شو چې خپلو ځینو اوږد مهاله او ژورو اندېښنو ته په جدي توګه رسیدګې وکړو: لکه د فساد او جرمونو پر وړاندې مبارزه، یاغیانو ته د مالي سرچینو د جریان وروکول، او د خوړو د خوندیتوب ښه کول. د دې ستونزو لپاره کومه چټکه او اسانه حل لاره نشته نو ځکه دا وخت غواړي. خو د ډېرو کلونو وروسته د لومړي ځل لپاره امید بخښونکې پرمختګونه ترسترګو کیږي. که چېرې موږ په چټکۍ سره غبرګون ونه ښیو، نو ښایي په دې ډېرو برخو کې له نوي

ځنډ او حتی شاتګ سره مخ شو، داسې حالت چې موږ به يې د زغملو توان نه لرو. په هره برخه کې پرمختګ سياسي ثبات او اقتصادي ودې ته زمينه برابره کړي او د نړيوالو ځواکونو د وتلو په هره ستراتيژۍ کې به حياتي رول ولري.

د اوسنيو مثبتو پرمختګونو اصلي امتياز بايد پياوړي افغان وزيرانو او چارواکو ته ورکړل شي. خو دا پرمختګونه د نړيوالې ټولنې ملکي او نظامي برخو د شتون او ژمنتيا پرته ممکن نه وو. نو دا وخت د زړه نازړه کيدو يا شاته تګ وخت نه دی، بلکې د ژمن پاتې کيدو وخت دی.

دا مثبت بهېرونه ډيری وخت د ډيرو مهمو پيښو او سياسي بدلونونو تر سيوري لاندې راځي، په اوس مهال کې په ځانګړې توګه د امنيتي وضعيت، او د ولسمشريزو او ولايتي ټاکنې کوم چې تاوده بحثونه په دې هکله روان دي.

په تېرو څو مياشتو کې امنيتي وضعيت خراب شوی دی. د ژمي نرمې هوا د تاوتريخوالي د لوړې کچې د دوام لپاره مناسب چاپيريال چمتو کړی. او د روژې د مبارکې مياشتې وختي راتګ اوږدې مودې جګړې ته زمينه برابره کړي. د پايلې په توګه، د ډسمبر په مياشت کې د امنيتي پيښو ټوليز شمير د ۲۰۰۷ کال د ډسمبر د مياشتې په پرتله ۴۲ سلنه او د روان کال په جنوري مياشت کې، د ۲۰۰۸ کال د جنوري د مياشتې په پرتله ۷۵ سلنه زياده شوي ده. لکه څنګه چې ما يادونه وکړه، په کابل کې د پيښو شمير کم شوی دی، چې يو لامل يې د افغان امنيتي په ځواکونو د فعاليت ښه والی دی. خو موږ بايد د جګړې د يوې سختې دورې تمه ولرو چې له اوس څخه څو اونۍ وروسته پيل کيږي. د ټاکنو بهېر په کابل کې زموږ په هڅو او همدارنګه په رسنيو کې مرکزي ځای ترلاسه کړی دی. موږ اوس د ټاکنو د نيټې، يعنې د اګست د ۲۰ نېټې په اړه هوکړې ته رسيدلي يو. موږ کولای شو د يو روښانه مهال ويش پر بنسټ پلان جوړ کړو – چې مالي چارې، تدارکات، روزنه، تنظيم او امنيت په اړوند وي.

اوس اصلي سياسي ننګونه د هغه لانجې حل کول دي چې د مې د مياشتې په ۲۲ نېټه کې راځي، کله چې د اساسي قانون له مخې د ولسمشر اوسنۍ دوره پای ته رسيږي او د ولسمشرۍ د راتلونکې دورې د پيل ترمنځ د وضعيت په اړه رامنځته شوې ده.

افغان سياستوالو ته زموږ پيغام خورا روښانه دی دوی بايد يوې داسې سياسي هوکړې ته ورسيږي چې د ولسمشرۍ د راتلونکې لوړې تر مراسمو پورې د افغانستان د بنسټونو مشروعيت او ځواکمنتيا تضمين کړي. د داسې هوکړې ترلاسه کول يوه حياتي ملي اړتيا ده. په تيرو وختونو کې هم، کله چې ملي ګټې له ګواښ سره مخ کيدل، داسې هوکړې ترلاسه شوي دي. خو کله چې مشران ملي هوکړې ته په رسيدو کې پاتې راغلي دي نو هيواد يې درنه بيه پرې کړې ده.

نړيواله ټولنه په افغانستان کې ۷۰ زره سرتيري لري چې د افغان ځواکونو ترڅنګ فعاليت کوي. ملياردونه ډالر پانګونه شوې ده. د دوبې مياشتې د جګړې د موسم اوج ګڼل کيږي. موږ نشو کولای اجازه ورکړو چې دا درې مياشتې هم د سياسي او اساسي قانون له پلوه د بې ثباتۍ په دوره بدله شي. موږ داسې حکومت او بنسټونو ته اړتيا لرو چې وکولای شي خپل کار په بشپړ ځواک او پراخ مشروعيت سره پرمخ يوسي. موږ حکومت ته هم يو پيغام لرو. اپوزيسيون داسې انديښنې لري چې واقعي او پر ځای دي. دا انديښنې د ټاکنو د بهېر د روڼتيا او صداقت پورې اړه لري. افغان حکومت بايد ثابته کړي چې د اپوزيسيون د ډاډ ترلاسه

کولو لپاره به خپله ټوله هڅه وکاروي، ترڅو هغوی ته ډاډ ورکړي چې ټاکنې به عادلانه او رڼې وي او د واکمنۍ له امکاناتو څخه به ناوړه ګټه نه اخیستل کیږي.

په پای کې، نړیوالې ټولنې ته هم یو پیغام شته. موږ باید د افغان چاروا‌کو او مدني ټولنو سره په همکارۍ کې د همدغو موخو - یعنې روڼتیا او صداقتوالي پر بنسټ د میکانیزمونو د رامنځته کولو لپاره خپله ټوله هڅه وکړو. زه له هغو بنسټونو څخه چې د نړیوالو څارونکو ډلو د استولو لپاره بلل شوي دي، لکه اروپايي اتحادیه او OSCE څخه غوښتنه کوم چې د کورنیو څارونکو د هڅو ترڅنګ خپل رول په بشپړ ډول ترسره کړي. ملګري ملتونه او د ټاکنو خپلواک کمیسیون به د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون جوړ کړي، چې په اوسنیو شرایطو کې به تر ممکنه حده پیاوړی وي. رسنیو ته د لاسرسي د څارنې لپاره به یوه رسنیزه کمیټه جوړه شي. ملګري ملتونه او د بشري حقونو خپلواک کمیسیون به د سیاسي حقونو د درناوي څارنه وکړي.

ټول ښکیل لوري، یعنې حکومت، اپوزیسیون او نړیواله ټولنه، باید د یوې نیمګړې او غیر عادلانه ټاکنیزې پروسې د پایلو په اړه پوه شي. د دې پایله به اوږد مهاله سیاسي بې ثباتي وي، په داسې حال کې چې ثبات تر بل هر وخت ډېر اړین دی. همدارنګه، دا به د ډېرو افغانانو په ذهنونو کې د ډیموکراتیکو پروسو د ارزښت په اړه شکونه رامنځته کړي، په داسې حال کې چې باور او ډاډ ته اړتیا ده.

ښاغلی رئیس، ملکي-نظامي همکاري زموږ د ماموریت یوه مهمه برخه ده. د ایساف او د ملګرو ملتونو د ماموریت ترمنځ اړیکې په دوامداره توګه د ښه کېدو په حال کې دي. موږ د افغان حکومت سره یوځای، د هغه یو موټي شوي تګلارې په جوړولو کې چې د کلونو په موده کې مو پرې خبرې کولې، د پام وړ پرمختګ کړی دی. موخه ساده ده، زموږ د ټولو ملکي - او نظامي سرچینو داسې وېشو او وکارو چې موږ وکولای شو ترې غوره ګټه واخلو، د پراختیایي هڅو پیاوړي کول، چېرته چې کارونه یې له خنډ پرته پرمخ تللی شي، او په هغو سیمو کې چې وضعیت یې حساس او یا بدلېدونکی دی د حکومتولۍ لپاره د ښه بنسټ برابرول، ترڅو په تدریجي ډول سره هلته هم ملکي پراختیايي فعالیتونه جلب شي چې مخکې پکې دا ډول فعالیتونه ستونزمن وو. موږ باید زده کړو چې په څه ډول سره په ګډه کار وکړو، خو په داسې بڼه چې له پخواني بڼې څخه توپیر ولري.

ملګري ملتونه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې او د پوځي چلند د مسلو په حل کې مخکښ رول لوبوي. هغه چلند چې ډېر ځله د افغانانو کلتوري حساسیتونو ته په کافي اندازه په پام کې نه نیسي. دغه عمل د بشري حقونو د ساتنې او ودې لپاره زموږ د مکلفیت له مخې ترسره کیږي. خو زموږ دغه ښکېلتیا د دې اړتیا له امله هم ده چې د نړیوال دوامداره ښکېلتیا په هدف د افغانانو پیاوړی ملاتړ یقیني کړو. موږ لیدلي چې څنګه جدي پېښې نه یوازې د نړیوال پوځي حضور څخه پر ملاتړ باندي اغېز کړی، بلکې بشري او پرمختیايي ټولنه یې هم له زیانمن حالت سره مخ کړې ده. تېر کال په پرتله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په کچه ۴۰ سلنه زیاته  شوی دی، چې د دغې مرګ ژوبلې لویه برخه د وسله والو مخالفینو د کړنو له امله رامنځته شوې ده. زه خوښ یم چې ګورم د نړیوالو ځواکونو قوماندان، جنرال مک کایرنان، خپلو سرتیرو ته په ورکړل شویو لارښوونو کې دې ستونزې ته جدي پاملرنه کوي، لکه د هوايي ځواک د کارولو کمول، له افغان امنیتي ځواکونو سره د همغږۍ ښه کول - او په ممکنه مواردو کې هغوی ته د مشرتابه سپارل - او د افغان ولس کلتوري حساسیتونو ته درناوی کول. ولسمشر کرزي په کلکه او وار وار

سره خپل نظرونه څرګند کړي دي. ډېری افغانان هم ورته نظرونه لري. او اوس د هغوی خبرې اورېدل کيږي او ورته پاملرنه کيږي. له بده مرغه، وسله والې ډلې لاهم پر ملکي وګړو باندي خپل بې توپيره او قصدي بريدونو ته دوام ورکوي.

زه د هغو خلکو نظر درک کوم چې وايي د سرتيرو د شمېر زياتوالی ښايي د هوايي ځواک د کارولو اړتيا کمه کړي او د ملکي وګړو د مړګ ژوبلې د کمېدو لامل به شي. خو موږ بايد د دې برعکس حالت د خطر احتمال هم ومنو. د اضافي سرتيرو شتون به د لا زياتې جګړې مانا ولري. د سرتيرو د زياتوالي او د هغوی د پرله پسې بدلېدل په صورت کې، نړيوال پوځي ځواکونه بايد ډاډ ترلاسه کړي چې خپل فعاليتونه داسې ترسره کوي چې هم د افغان ولس او هم د سرتيرو د مرستندويه هيوادونو خلک پياوړي ملاتړ وکړي. که دا ملاتړ له لاسه لاړ شي، نو زموږ ټولې هڅې به له خطر سره مخ شي.

ښاغلی رئيس، د مرستندويانو ترمنځ ناکافي همغږي زموږ ټولو لپاره يوه لويه اندېښنه او زموږ د ماموريت لپاره يوه لوميتوب لرونکې ډګر ښکاري. موږ په ځينو برخو کې پرمختګ کړی دی. سياسي همغږي تر پخوا ښه شوې ده. خو د مرستندويانو ترمنځ د همغږۍ په برخه کې وضعيت ډېر پيچلی او لږ اميد بخښونکی دی. په وروستيو مياشتو کې د پاليسۍ د بنې جوړولو په اړه يو لړ بحثونه شوي، چې هيله لرم په تدريجي ډول سره به په پاليسۍ جوړولو کې منعکس شي. سربېره پر دې، ځينې هيوادونه د ملي پروګرامونو او د افغانستان د بوديجې له لارې ډېرې سرچينې لګوي. خو زه لاهم زموږ د يو شمېر کړنو په اړه جدي اندېښنې لرم.

لومړی، موږ بايد - تر ممکنه حده - د هغو قراردادیانو له کارولو ډډه وکړو چې ډېر ځله ورته له حده زياتې پيسې ورکول کيږي او کافي وړتيا نه لري، هغه کسان چې موخه يې يوازې د پروژ د داسې پرمختيايي تګلارو لنډ مهاله لګښتونه لوړ او اوږد مهاله اغېزې يې لږ دي. دا به ښه يې چې موږ بايد د خپلو لاسته راوړنو د ارزونې په برخه کې - د اغېز له مخې - اغېزمنتيا، د لګښت موثريت او د ظرفيت لوړولو باندې اغيزمنتيا – باندی غور وکړو.

دويم، زه هغه څه ته بېرته راګرځم چې ما ورته "د مرستندويانو لخوا رامنځته شوې د افغانستان کمزورې همغږي" ويلي دي. زه په هغو سيمو کې د بيارغونې او پرمختيا اړتيا درک کوم چېرته چې جګړه روانه وي، خو د توازن نشتوالی يوه تېروتنه ده او سره له دې چې پرله پسې خبرداری ورکړل شوی او ژمنې هم شوې دي، خو وضعيت لا پسې خرابيږي. د مرستندويانو يوه مخ پر زياتېدونکې ډله د افغانستان په اړه يوازې د ولايتونو په کچه ليدلوری غوره کوي، په داسې حال کې چې يو ګډ ملي ليدلوري ته اړتيا ده. که اوسنی بهېر سم نه شي، نو زه اندېښنه لرم چې په باثباته سېمو کې به هم ګډوډي رامنځته شي او د ملي پروګرامونو د پلي کولو وړتيا به لا پسې راکمه شي.

درېيم، هرچېرته چې امکان ولري، نړيوال پوځي ځواکونه بايد پرمختيايي سرچينې د ملکي ادارو - په ځانګړې توګه افغاني ادارو - له لارې ولګوي، نه دا چې پخپله پرمختيايي کارونه ترسره کړي. زه ټولو ولايتي بيارغونې ډلو ته وړانديز کوم چې پرمختيايي سرچينې د هغو برياليو ميکانيزمونو له لارې ولګوي چې ډېرځله له کمو مالي سرچينو سره مخ وي، لکه د ملي پيوستون پروګرام. دا کار به پروژې ارزانه او ډېرې پايدارې کړي او همدارنګه به د خلکو په نظر کې د افغان چارواکو موقف پياوړي کړي.

نن صبا زما په باور، د ۵۰۰ میلیون تر ۱ ملیارد امریکایې ډالرو ترمنځ پیسې په دا ډول لګول کیږي چې په اړه یې د افغان حکومت ته هیڅ راپور نه ورکول کیږي. په پایله کې، نه افغان چارواکي او نه هم موږ پوهېږو چې په ټول هېواد کې څومره پیسې او د کوم هدف لپاره لګول شوي دي. د همغږۍ او شفافیت د نشتوالي له امله، د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ لویه برخه به له مالي ملاتړ څخه بې برخې پاتې شي. د ټولو مرستو لویه برخه د حکومت له کنټرول څخه بهر لګول کیږي او د لګښت پر څرنګوالي د اغېزې اچولو ټولې هڅې د نړیوالو مرستندویانو د سیسټم د پیچلتیا له امله له خنډ سره مخ کیږي.

موږ به ډېر ژر - د نړیوال بانک په مرسته - د اقتصاد او مالیې په وزارتونو کې یو نوی، هراړخیز او په اسانۍ سره د لاسرسي وړ معلوماتي سیسټم جوړ کړو. زه له ټولو مرستندویانو څخه غوښتنه کوم چې له دې سیسټم څخه بشپړه ګټه پورته کړي. ډېر مرستندویان چې زه ورسره ګورم، د غوره همغږۍ پر اړتیا ټینګار کوي، خو ډېر لږ یې د هغو کړنو د بدلولو لپاره چمتووالی ښیي چې موږ یې اوسني بې خبرۍ او ګډوډۍ ته رسولي یو.

ملګري ملتونه به اوس د "هم‌مسلکو لخوا د ارزونې" یا (peer-review) یو نوی میکانیزم هم رامنځته کړی دی. موخه به یې دا وي چې په ځانګړو لومړیتوب لرونکو برخو کې مرستندویان سره راټول کړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دوی د کارونو د تکرار پر ځای یو بل بشپړوي او د افغانستان د حکومت له پلانونو سره سم ستراتیژیک لیدلوری لري. دا نوښت د افغانستان د حکومت بشپړ ملاتړ له ځان سره لري او د مرستندویانو لخوا یې هم هرکلی شوی دی.

ما د ظرفیت او بنسټونو د جوړولو پر اړتیا ټینګار کړی دی، چې زموږ له لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي. دا د افغانستان د بیارغونې او همدارنګه د نړیوالو ځواکونو د وتلو د ستراتیژۍ تر ټولو مهم عنصرونه دي. دغه تګلاره د افغان ملي اردو په جوړولو کې ښه نتیجه ورکړې او د پولیسو په جوړولو کې هم د ښو پایلو په لور روانه ده. ولې داسې ده؟

په لومړي سر کې اد ځکه چې ملي پروګرامونه شتون لري. یوازې د ډېرو خلکو استول کافي نه دي. موږ ډېر ځله لیدلي چې څه رنګه د اړتیا پر بنسټ د تګلارې پر ځای، د اکمالاتو (یا عرضه) پر بنسټ تګلاره ناکامه شوې ده. ډېر ځلې زه دې پوښتنې ته فکر کوم چې د چا ظرفیت باید لوړ کړو؟ ایا د بهرني کارپوهانو ظرفیت او که د افغانستان د بنسټونو ظرفیت؟

زه په کلکه باور لرم چې د ظرفیت او بنسټونو د جوړولو لپاره یوې پراخې هڅې ته اړتیا ده. دا باید زموږ د لومړیتوبونو په سر کې وي. پدې کې د دغه ډاډ ترلاسه کول شامل دي چې د ظرفیت لوړول د هرې پراختیایي پروژې یوه نه بېلېدونکې برخه ده، د پوهنې په برخه کې باید یو ډېر ستراتیژیک چلند غوره شي، او په ملي او سیمه ایزه کچه بنسټونه جوړ شي، لکه امنیتي بنسټونه، عدلي او قضایي بنسټونه، وزارتونه او د ولایتونو او ولسوالیو ادارې.

اما په لاندې مواردو پورې به اړه ولري:

موږ باید یو ملي لیدلوری او ملي پروګرامونه ټولګه ترتیب کړو. یوه ټوټه ټوټه او غیر منسجمه تګلاره به کار ورنکړي.

پروګرامونه باید مسلکي کسان، اړین تخنیکي امکانات او مالي سرچینې په خپل محتوا کې ولري.

باید د افغانانو لخوا د مالکیت احساس ډاډمن کړای شي.

د ظرفیت لوړولو په بهیر کې باید، چیرې چې امکان ولري، دواړه روزنه او هم لارښوونه شامل وي.

د ظرفیت او بنسټونو جوړول داسې فعالیت نه دی چې د پرانیستې مراسمو لکه د پټۍ پرې کولو یا عکسونو اخیستلو لپاره مناسب وي. خو دا د افغانانو د پیاوړې کولو لپاره تر ټولو مهم عنصر دی چې خپلې چارې پخپله پرمخ یوسي.

اجازه راکړئ تشریح کړم چې ولې زه پر ډېر ستراتیژیک او اوږد مهاله فکر باندي ټینګار کوم.

په دې وروستیو کې مې د پوهنې او د کار او ټولنیزو چارو له وزیرانو سره یوه ناسته درلوده. هغوی ماته وویل چې ډېر ژر په میلیونونو ځوان نجونې او هلکان به له ثانوي زده کړو څخه فارغ شي. دا یو ښه خبر دی. خو په لوړو زده کړو کې د هغوی د جذبولو لپاره خورا محدود ظرفیت شتون لري. یوازې ۴ سلنه زده کوونکي تخنیکي او حرفوي ښوونځیو ته لار موندلای شي. که دغه وضعیت ژر اصلاح نشي، افغانستان به ونشي کړای له خپلو فکري سرچینو څخه ګټه پورته کړي او د اقتصادي ودې امکانات به د پام وړ په کچه محدود شي. خصوصي سکتور به مسلکي او باسواده کسان ونه لري.

د لومړنیو زده کړو د برابرولو په برخه کې د مرستندویانو چمتووالی د هڅونې وړ دی. یو هېواد په خپل وقف شوي او اړونده ولایت کې ۲۰۰ لومړني ښوونځي جوړوي، خو ګاونډي ولایتونه د ورته سخاوت څخه بې برخې دي. همدارنګه، په همدغو ولایتونو کې د لوړو زده کړو او حرفوي روزنې لپاره سرچینې کمې دي.

دا د ستراتیژۍ او پالیسۍ د بیا کتنې وخت دی. زه د داسې بیا کتنو هرکلی کوم او باور لرم چې دا کار کولای شي په یوه حساس پړاو کې زموږ ګډې هڅې بیا پیاوړې کړي.

خو زه پر دې ټکي هم ټینګار کوم چې موږ لومړیتوبونه ټاکلي دي او پر هغو مو – په پاریس او نورو ځایونو کې – هوکړه کړې ده. اصلي ستونزه د هغو مواردو د پلي کولو لپاره زموږ محدود چمتووالی دی چې پرې هوکړه شوې، همدارنګه د بدلونونو پر وړاندې د کافي انعطاف پذیري نشتوالی او په کارونو کې د ستراتیژیک او ملي لیدلوري نشتوالی هم د ستونزو له جمعې څخه شمېرل کیږي.

ما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې او ټاکنیز بهیر په برخه کې زموږ د بشري حقونو د ماموریت په اړه خبرې کړې دي. اجازه راکړئ چې دوو نورو برخو ته هم اشاره وکړم چې زموږ بشپړ پام ورته دی: په افغاني ټولنه کې د ښځو حقونه او د بیان ازادي.

زه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي او د جنسي تېري د وحشیانه پېښو په اړه وروستیو راپورونو اندېښمن کړی یم. زموږ ماموریت په دوامداره توګه د داسې پدیدو، په افغاني ټولنه کې د ښځو د ګوښه کولو، د مجازاتو څخه د معافیت حاکم وضعیت، او عدلي سیستم او مناسبو روغتیايي اسانتیاوو ته د نه لاسرسي پر وړاندې، خپل غبږ پورته کوي.

افغانستان نن ورځ په نړۍ کې یوازینی هېواد دی چې پکې د ښځو د ژوند منځنۍ عمر د نارینه وو په پرتله ټیټ دی.

موږ د ښځو د زده کړې او په افغاني ټولنه کې د هغوی د ګډون د ورتیا او پیاوړتیا لپاره غږ پورته کوو. دا د بشري حقونو یوه مسله ده، خو د هېواد په بیارغونه کې د ټول افغان نفوس څخه د بشپړې ګټې اخیستنې مسله هم ده. افغانستان نشي کولای د خپل نفوس نیمایي برخه له پامه غورځوي او یا دوي منزوي کړي. نن ورځ ښځې په مهمو او لوړو څوکیو کې شتون لري، خو شمېر یې کم دی. لا ډېرو ښځو ته اړتیا ده چې د ځوانو ښځو لپاره د بېلګې په توګه کار وکړي او هغوی ته دا وړتیا ورکړي چې خپلې سرچینې د هېواد د ګټو لپاره وکاروي.

موږ په دوامداره توګه د بیان د ازادۍ اړوند مسلې هم مطرح کړې دي، دا موضوع تل مهمه وي، خو کله چې د ټاکنو کمپاین نږدې کېږي، نو اهمیت یې لا نور هم زیاتېږي.

کله چې ما وروستی ځل د امنیت شورا په غونډه کې خبرې وکړې، زه د بشري وضعیت او د هېواد په ډېرو برخو کې د قحطۍ د احتمال په اړه سخت اندېښمن وم. هغه خطر لا نه دی له منځه تللی. خو تر اوسه ژمې هغه بشري بحران نه دی رامنځته کړی چې ډېر کسان ویره درلودل. د راتلونکي فصل د حاصلاتو وضعیت د تېر کال په پرتله ښه ښکاري. د اپریل د میاشتې په نیمایي کې به موږ وکولای شو چې وضعیت او راتلونکي امکانات د نن ورځې په پرتله ښه و ارزو.

په راتلونکو څو میاشتو کې به څو کنفرانسونه جوړ شي چې تمرکز به یې زموږ د کار په سیمه ایز اړخ وي. زه د دې پراخ تمرکز هرکلی کوم. او هیله لرم چې دا بېلابېل کنفرانسونه داسې چمتو شي چې د جلا پېښو د یوې لړۍ پر ځای، په یوه دوامداره پروسه بدله شي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ ښه شوې اړیکې هڅونکې دي. په موږ کې هیڅوک هم ننګونې او د دغه ښه شویو اړیکو د ملاتړ اړتیا، کم نه تخمینو، څرنګه چې د افغانستان او پاکستان لپاره د ګڼ شمېره ځانګړو استازو په ګمارلو کې ښه انځور شوی دی. د سیمه ایزې همکارۍ ظرفیت د پام وړ دی. دا همکاري له لویو زیربنایي پروژو څخه، کوم چې پراخه سیمه سره نښلوي، نیولې تر کرنې په برخه کې تر کوچنیو همکاریو پورې دی، پراخ ډګر احتوا کوی. د تېر کال په ډسمبر میاشت په پاریس کې جوړې شوې غونډې د مرستندویانو پام او لیوالتیا ځان ته راجلب کړه. د پاریس د غونډې د تعقیب په لړ کې، دوه ورځې وړاندې په بروکسل کې کارپوهان سره راټول شول ترڅو په اسلام آباد کې د سیمه ایزې اقتصادي همکارۍ کنفرانس لپاره د لومړیتوب وړ پروژې مشخصې کړي. زه باور لرم چې اوس موږ د اعلاناتو له پړاو څخه د عمل پړاو ته د تېرېدو په حال کې یو. همدا اوس، له ازبکستان څخه کابل او د افغانستان نورو ښارونو ته د برېښنا رسول د سیمه ایزې همکاریو د ارزښت یوه ښکاره نښه ده.

زه اعتقاد لرم چې د اقتصادي همکارۍ او همدارنګه د ظرفیت لوړولو په برخو کې، ټول ګاونډي هېوادونه کولای شي مهم رول ولوبوي. د بېلګې په توګه، د ګاونډیو هېوادونو د کر کلي متخصصین د افغانستان سره بلد دي، پر ژبو یې پوهېږي او له اقلیم سره هم اشنایي لري. هغوی یقیناً د لویدیځو کارپوهانو په پرتله لږ مالي لګښت هم لري. هغوی په سیمه کې د پام وړ نه کارول شوې سرچینې ګڼل کېږي کوم چې په کار باید واچول شي. ښاغلی رئیس، ما تل ټینګار کړی چې یوازې پوځې لارې چارې نشي کولای شخړې ته د پای ټکی کېږدي، په پای کې یو سیاسي بهیر لازمي دی. خو موږ باید داسې فکر ونه کړو چې د پخلاینې داسې یو بهیر کولای شي سولې ته یوه لنډه لاره پرانیستی شې او یا د افغانستان د بیارغونې لپاره د نورو هڅو بدیل به شي. پخلاینه

بدیل نه، بلکې یو حیاتي او وروستی جز دی. سرېره پر دې، د سولې بهیر به هېڅکله بریالی نه شي که حکومت او نړیواله ټولنه پر خپلو ځانونو باور ونه لري. موږ باید پخلاینې ته داسې بنه ورکړو چې پکې نه کمزوري او بدګمانۍ وي، بر عکس د ځواک او کلک هوډ څرګندوي وي. که موږ پر خپلو ځانونو باور ونه لرو، نو افغانان هم پر موږ او خپله راتلونکې باندې باور به ونه کړي، دغه کار به د پخلاینې هر ډول بهیر ته زیان رسوي.

ښاغلی رئیس، په څو ورځو کې به موږ او ډېر نور همکاران په هاګ کې سره راټول شو. دا به د مرستندویانو کنفرانس نه وي، بلکې د ملاتړ او ژمنتیا یوه سیاسي بڼه به ولري. زما هیله دا ده چې د هاګ کنفرانس نوې انرژي او ګډ چمتووالی رامنځته کړي نه د هغو لومړیتوبونو د بیا ارزونې لپاره چې پرې هوکړه شوې، بلکې د هغوی د عملي کولو او د سرچینو د انعطاف پذیري او همغږي کارولو لپاره چمتووالي وښودل شي. زما لپاره د هاګ کنفرانس، د سیاسي ارادې یوه ازموینه ده. دا زموږ لپاره یو فرصت دی چې د نا امیدۍ او توره تیاره فضا لرې کړو، په کلک هوډ سره کار پیل کړو او له هغو مثبتو بهیرونو ملاتړ وکړو چې اوس مهال په افغانستان کې د ښکاره کېدو په حال کې دي.

او راځئ چې له دې انکېرنې څخه ډډه وکړو چې ګواکې موږ یوازې پر دې بحث کوو چې د افغانستان په اړه څه وکړو. موږ باید پر دې بحث وکړو چې له افغانانو سره په ګډه څه کولای شو. که هغوی احساس کړي چې د دوی په اړه په بحثونو کې، د دوی سره کوم بحث نکېږي، نو دا به د دوی د وقار او د مالکیت احساس ته ژور زیان ورسوي. د مالکیت احساس خورا مهم دی، ځکه چې دغه احساس د خلکو په نظر کې د حکومت ځواکمنتیا لپاره، پر خپل ځان باندې اعتماد لپاره او په نهایت کې د یاغیانو پر وړاندې زموږ د بریا لپاره خورا اهمیت لري.

مننه،